مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني

۲۰۲۰/۰۲/۰۹

# داغلي زړونه

تـوري وريځي طـوفانونه
غـم لـړلـي مـاښامونـه

بيا اسمان ولې په قهر دی
بد حالت دی بد روزګار دی

د اسمان لمنې سرې دي
درد او غم شيبه، شيبې دي

دي غمجن، مهلک وختونه
نـا اميد داغـلـي زړونه

ځوانيمرګـه مو هستي ده
دنـيا تلونکي ده فـاني ده

ځـي د اوښـکو سيلابونه
پرې لامده شول ګريوانونه

ځوانيمرګ مـو نن بهار دی
جګ نښتر دی هم چنار دی

ربـه راولـې قرار بيا
د دې سيمې پـه ګلزار بيا

غوټـۍ وسپړي خندا شي
خوشالي په هـره خوا شي

ربـه ختم دا مـاتم کـړې
خوشالي په هر قدم کړې

د اسمان لـمنې شنې کړې
د خوښی بلې ډيـوې کړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ستا دربارته دوعـاګـوی یو
چې پـدې خـبره پوی یــــو

صرف تحفه زمونږ ایمان دی
دا ژوندون یـــو امتحان دی




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ